# لیلا، د فوټبال ستوری

# Andiswa Soccer Star

- Eden Daniels
- Eden Daniels
- Zahidullah Abid
- 2
- پښتو ps / English en

ليلا د هلکانو د فوټبال ننداره کوله. هغې غوښتل چې کاش له دوی سره لوبېدلې وای. هغې له لوبډلمشر څخه وپوښتل، ایا کولی شي له دوی سره تمرین وکړي؟

• • •

Andiswa watched the boys play soccer. She wished that she could join them. She asked the coach if she can practise with them.

روزونکي خپل لاسونه شاته ونیول او هغې ته یې وویل:
“په دې ښوونځي کې، یوازې هلکانو ته اجازه شته چې
فوټبال وکړي.”

. . .

The coach put his hands on his hips. “At this school, only boys are allowed to play soccer,” he said.

هلکانو هغې ته وویل چې ولاړه شه او د نېټبال (جال بال) لوبه وکړه. دوی ورته وویل چې نیټبال د نجونو لپاره دی او فوټبال د هلکانو لپاره دی. لیلا ډېره زیاته خپه شوه.

...

The boys told her to go play netball. They said that netball is for girls and soccer is for boys. Andiswa was upset.

بله ورځ ښوونځي د فوټبال یوه لویه سیالۍ درلوده. روزونکی ډېر اندېښمن و، ځکه چې د هغه غوره لوبغاړی پدې ورځ ناروغ و، او لوبه نه شوه کولی.

• • •

The next day, the school had a big soccer match. The coach was worried because his best player was sick and could not play.

ليلا د ښوونځي د فوټبال روزونکي ته ورغله، او ورڅخه يې وغوښتل چې هغې ته اجازه ورکړي چې لوبه وکړي، روزونکی ډاډه نه و چې ليلا به څنګه لوبه وکړي. بلاخره د ليلا په مکررې غوښتنې اجازه يې ورکړه چې لوبه وکړي.

. . .

Andiswa ran to the coach and begged him to let her to play. The coach was not sure what to do. Then he decided that Andiswa could join the team.

لوبه ډېره ستونزمنه وه. د لوبې تر نيمايي پورې هيچا هم ګول ونه کړ.

• • •

The game was tough. Nobody had scored a goal by half time.

د لوبې په دوهمه نیمايي کې یو هلک لیلا ته توپ پاس کړ، هغې د ګول کیپر په لورې په ډیرې چټکۍ سره توپ وځغلوه او د پښې په واسطه یې ګول ووهه.

. . .

During the second half of the match one of the boys passed the ball to Andiswa. She moved very fast towards the goal post. She kicked the ball hard and scored a goal.

لوبې ته راغلو نندارچیانو ډېره خوښي وښوده، او له همغې
ورځې وروسته نجونو ته اجازه ورکړل شوه چې په ښوونځي
کې د فوتبال لوبه وکړي.

• • •

The crowd went wild with joy. Since that day, girls were also allowed to play soccer at the school.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## ليلا، د فوټبال ستورى

## Andiswa Soccer Star


Eden Daniels
Eden Daniels
Zahidullah Abid (ps)